حاجي محمد نوزادي
2015 /3/8
د ښځو د نړیوالي ورځې په پلمه

# ايبنمه

هغه د اوړي لنډکی شپېه مي ،

سپيني سپوږمی په ماښام ،

د کله کله په شان ،

نن بيا خاطر ته راغله :

هغه چي ته ،

لکه پسرلي په موسم ،

بس يوه ايبنمه راغلي .

راته پر ټول وجود مي ،

له تند بارانه سره ،

و اورېدي ، و اورېدي .

بيا مي د ويني سره ،

د زړه رګو کي تاو سوې .

او د لمر ځرک نه وړاندي ،

تُندي بربښنا په وزر ،

له ما نه والوتلې ،

زه خو هيڅ پوه نه سومه ،

چي ته کوم لورته ولاړې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ډېره موده تیره سوه ،

وروسته خبر سوم پدې ،

چي په غلطه پته ،

و پردي کور ته ولاړې .

خو،

زُما پر شنه اسمان دي ،

له هغي ایښمي ښخه ،

هغه خوارہ ګرځونه ،

خدایرو اوس هم پاته دي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ